# دوه خطرناک شرمخان

27-October-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

**27 اکتوبر 2022ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کیدونکے بیان**

# دوه خطرناک

# شرمخان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې په كتاب كښې په ما باندې دُرُودِ پاك اوليكلو نو ترڅو پورې چې زما نوم په هغې كښې ليك وي، فرښتې به د ليكونكي د پاره د بخښنې دُعا كوي.[1]

عجب کرم ہے کہ خود مُجرِموں کے حامی | گناہگاروں کی بخشش کرانے آئے ہیں
وہ پرچہ جس میں لکھا تھا درود اس نے کبھی | یہ اس سے نیکیاں اس کی بڑھانے آئے ہیں[2]

**وضاحت:** دا ښومره ښكلے كرم دے چې رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د قيامت په ورځ د خپلو ګنهګارانو اُمتيانو د بخښنې د پاره پخپله تشريف راوړي، د يو روايت مطابق يو ګس به په كاغذ باندې درود ليكلے وي، رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه ليكلے شوے دا

323

1…معجم اَوسط، جلد:1، صفحه:497، حدیث:1835۔
2…سامانِ بخشش، صفحه:9493 ملتقطاً۔

درودِ پاک د هغه د نيکو په چابړي کښې کيږدي، د کوم په برکت چې به د نيکو چابړے درووند شي او ګنهګار به اوبخښلے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د هر نيك او جائز كار نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونو كولو عادت جوړ كړئ چې هغه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه اوكړئ: مَثَلاً نِيَّت اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ د علمِ دِين زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ چې خومره كيدے شو د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه كښينم ❀ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بيان اورم ❀ څه چې واورم ِ ځپله به پرې د عمل كولو او نورو د د رَسَولو كوشش كووم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد



1…مسندِ فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! مونږه مسلمانان يو، ربِّ کريم په خپل فضل و کرم سره مونږ ته د ايمان دولت عطا کړے دے. ايمان يو نور دے، کوم چې د بنده په زړه کښې ايښودے شي، بيا د هغه نور رنړا، د هغه ښکلا او پړقا د بنده په اندامونو (مثلاً لاسونو، ښپو، ژبے، سترګو وغيره) کښې، د هغه په اَفعَالو کښې، کردار کښې، په اخلاقو کښې په نظر راځي، ډير داسې څيزونه دي، کوم چې په زړه کښې موجود د ايمان نور کموي، د بنده په زړه کښې خو د اِيمان نور موجود وي، ليدونکي هغه ته مسلمان وائي، بنده خپل ځان هم مسلمان ګنړي، الله پاک، د هغه رسولان، کتابونه، فرښتې او قيامت وغيره مني هم، په هغې ايمان هم لري ولې د هغه په زړه کښې د ايمان نُور دومره کم شي چې د هغه نور رنړا، د هغه ښکلا ځلا د بنده د اندامونو نه، د هغه د اَفعَالو نه، د اخلاق و کردار نه نه ظاهريږي، بنده خو مسلمان وي خو د هغه کارونه د مسلمانانو نه وي، د هغه نيکو ته زړه نه کيږي، د نيکو مزه کمه او د ګناهونو مزه زياته شي، په آخرت باندې د ايمان لرلو باوجود بنده آخرت هير کړي، د قبرونو ليدلو سره هم هغه عبرت نه اخلي، غرض دا چې په زړه کښې د ايمان نور کم شي نو داسې حالت شي چې

بجھی عشق کی آگ اندھیر ہے | مسلماں نہیں راکھ کا ڈھیر ہے

اوس هغه کوم څيزونه دي چې په زړه کښې د ايمان نور کموي؟ راځئ! په هغې کښې د 2 ډيرو خطرناکو او ډير نقصان رسوونکو څيزونو په باره کښې يو د سبق نه ډک حديثِ پاک واورو:

# دوه خطرناک شرمخان...!!

سرکارِ عالي وقار، د مکيِ مدينيِ تاجدار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:

مَا ذِئْبَانِ ضَارِبَانِ تَأْتِيَانِ فِيْ غَنَمٍ غَابَ رِعَاءُهَا بِأَفْسَدَ لِلنَّاسِ مِنْ حُبِّ الشَّرَفِ وَالْمَالِ لِدِيْنِ الْمُؤْمِنِ[1]

د دې حديثِ پاک خلاصه دا ده چې مثال طور د چيلو [بيزو] يوه رَمَه ده، د هغې ساتونکے يا ګډبه [شپونکے] چرته تلے دے، چيلۍ بالکل يواځې دي، بے وسه او بے اَسرې دي، په داسې حالت کښې دوه شرمخان کوم چې اوږي هم وي، هغوئي سخت اوږي شوي وي، هغه که چرې د دې چيلو په رَمَه حمله اوکړي نو څومره تباهي به کوي؟ په خوراک خو کيدے شي چې يو شرمخ يوه چيلۍ اوخوري خو د چيلو ساتونکے نشته، شرمخانو ته هيڅ خطره نشته، هغوئي به بے د څه ويرې په چيلو باندې حمله کوي، پته نه لګي چې څومره چيلۍ به زخمي کړي او پته نه لګي چې څومره چيلۍ به مړې کړي.

غرض دا چې اوږي شرمخان چې به د چيلو رَمې ته څومره نقصان رسوي، څومره تباهي به کوي، مال او ځان (يعني د شرف و عزت) محبت هغه خطرناک شرمخان دي، کوم چې د هغه اوږو ليوانو نه هم زيات د انسان په دين کښې تباهي راولي.

اَللّٰهُ اکبر! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! زمونږه کريم آقا، رحيم آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څومره زبردست مثال راکولو

323

1...مجموع رسائل ابن رجب حنبلي، جلد:1، صفحه:63۔

سره مونږه پوهه کړي يو چې اے زما غلامانو! اے اُمّتيانو! د مال محبت او د ځان او عِزَّت مينه ستاسو د دين او ايمان د پاره ځومره خطرناکه ده، دا به تاسو په دُنيا او آخرت کښې برباد کړي، ځکه د دې نه ځان ساتئ...!!

آہ! دولت کی حفاظت میں توسب ہیں کوشاں — حِفظِ ایماں کا تصوُّر ہی مِٹا جاتا ہے
یاد رکھّو! وُہی بے عقل ہے اَحمق ہے جو — کثرتِ مال کی چاہت میں مرا جاتا ہے
اپنی الفت کا مجھے جام پلا دو ساقی — قلب دنیا کی محبت میں پھنسا جاتا ہے [1]

## د مال محبت او د عزَّت محبت په زړه کښې نفاق پيدا کوي

په يو حديثِ پاک کښې دي: د مال محبت او د عِزَّت د مشهورتيا محبت په زړه کښې داسې نِفاق پيدا کوي، لکه څنګه چې اوبه بوټي راټوکَوي.[2]

ترا غم ہی چاہے عطّارؔ اِسی میں رہے گرِفتار — غمِ مال سے بچانا مدنی مدینے والے [3]

الله پاک دې مونږه د عزَّت او د مشهورتيا د محبت او د مال د محبت د آفت نه بچ کړي.

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد



1...وسائل بخشش، صفحه:432۔

2...الزواجر عن اقتراف الكبائر، الكبيرة الثالثة والخمسون بعد المائتين، جلد:2، صفحه:44۔

3...وسائل بخشش، صفحه:429۔

www.dawateislami.net

## د مال د محبت د نقصانونو بیان

علمائے کرام فرمائي: د مال د محبت دوه صورتونه دي:

## د مال د محبت وړومبے صورت: بد لالچ

یو صورت [شکل] دا دے چې د انسان په زړه کښې د مال محبت وي، بنده غواړي چې زه په لږ وخت کښې مالداره شم، زما کارخانے وي، بنګلے وي، بینک بیلنس وي، غټې غټې ګاډي وي خو د مال د دې بد محبت په وجه انسان حرامو له لاس نه وروړي، مثلاً د خپلو خواهشاتو پوره کولو د پاره د رشوت لَین دَین نه کوي، د سود په لور نه ځي، غلا ګانې نه کوي، په ناپ تول کښې کمے نه کوي، نورو له دوکه نه ورکوي.

غرض دا چې د انسان په زړه کښې خو د مال محبت شته خو د حرامو کولو د پاره راپارونکے محبت نه دے، **دې ته حِرص وئیلے شي**. دا هم ډیر نقصان رسوونکے خیز دے...!!

## د مال محبت منافق جوړ کړو (عبرتناکه واقعه)

اوس یوه د سبق نه ډکه واقعه تاسو ته اورووم: د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ظاهري ژوند مبارک په زمانه کښې یو کَس وو، د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې به حاضِریدلو، هغه کلمه هم وئیلې وه، ایمان ئې هم راوړے وو، د اِمامُ الانبیاء صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په امامَت کښې

به ئې لمُونځونه هم کول او دا دومره پوخ لمُونځ ګزاره پرهيزګاره وو چې حکيم الأُمَّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ده به د شپې او ورځې (زياته حِصه) په مسجدِ نبوي شريف کښې تيروله، تر دې پورې چې د هغه لقب حَمَّامَةُ الْمَسْجِد (يعني د جُمات کونتره) شوے وو.[1]

دا ګس په معاشي لحاظ سره ډير غريب وو، په **تفسيرِ صراطُ الجنان** کښې دي: دې ګس رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم ته خواست اوکړو چې زما د پاره د مالداره کيدو دُعا اوفرمائې. خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **لږ مال د کوم چې ته شکر ادا کړے شې، د هغه زيات مال نه غوره دے، د کوم چې ته شکر ادا نه کړے شې.** هغه بيا حاضر شو او هم دغه خواست ئې اوکړو او اوئې وئيل: په هغه [ذات] مې دې قسم وي چا چې ته رښتينے نبـي راليږلے ئې چې که چرې هغه ما له مال راکړو نو زه به د هر حق والا حق ادا کووم. سرکارِ عالي وقار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوفرمائيله، نو هم داسې الله پاک د هغه په چيلو (بيزو) کښې برکت عطا کړو او دومره ډيرې شوې چې په مدينهٔ منوره کښې د هغې ځائے نه وو، نو هم دغه شان هغه لالچي ګس د چيلو سره ځنګل ته لاړو او د جُمعے او د جَمعې لمُونځ ته د حاضرئ نه هم محرومه شو. رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه د حال پوښتنه اوکړه؟ نو صحابهٔ کرامو عليهمُ الرِّضوَان عرض اوکړو چې د هغه مال ډير زيات شوے دے او اوس په ځنګل کښې هم د هغه مال نه ځائے کيږي. خوږ آقا، مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په هغه باندې افسوس...!!

323

---

1…تفسير نعيمى، پاره:10، سورهٔ توبه، تحت الآية:7675، جلد:10، صفحه:482۔

بیا چې کله خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زکوٰۃ حاصلولو والا اولیږلو نو خلقو هغوئي له خپلې خپلې صدقې ورکړې، چې کله هغه لالچي کَس له دوئي لاړل او صدقه ئې اوغوښتله نو هغه اووئیل: دا خو ټیکس شو، لاړ شئ! زه وړومبے سوچ اوکړم. چې کله دا خلق د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې بیرته حاضر شول نو هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د څه عرض کولو نه مخکښې دوه ځله اوفرمائیل: په هغه (لالچي کَس) باندې افسوس...!! د هغې نه پس دا آیت نازِل شو[1] :

وَ مِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ لَىٕنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ(۷۵) فَلَمَّاۤ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَ تَوَلَّوْا وَّ هُمْ مُّعْرِضُوْنَ(۷۶)

(پاره:10،سورۂ توبہ:75-76)

[مفهوم] ترجمۂ کَنْزُ العِرْفان: او په دې کښې څه بعضې هغه دي کومو چې د اللّٰه سره لوظ کړے دے چې که اللّٰه مونږ له د خپل فضل نه راکړي نو مونږه به ضرور صدقه ورکوو او ضرور به د صالحانو نه شو، بیا چې کله اللّٰه هغوئي ته د خپل فضل نه عطا کړه نو په هغې کښې ئې بُخل اوکړو او مخ ئې واړولو او واوړیدل.

اللّٰه! اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا دے د مال د محبت نقصان...!! رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه لالچي منافق پوهه کړو چې هغه لږ مال د کوم چې ته شکر ادا کړے شې، د هغه زیات مال نه بهتر دے، د کوم چې ته شکر ادا نه کړے شې. خو هغه په یوه خبره هم پوهه نه شو، هغه د دُنیا مال خوښ کړو، آه! هغه کَس چا چې به د شپې او ورځې زیاته حِصَّه



1…تفسیر صراط الجنان، پاره:10، سورۂ توبه، تحت الآیة:7675، جلد:4، صفحه:186۔

www.dawateislami.net

په جمات کښې تیروله، هغه ګَس چاته چې به حَمَّامَةُ الْمَسْجِد (یعني د جُمات کونتره) وئیلے شوه، د مال محبت د هغه په زړه راخور شو، د هغه د زړه نه د ایمان نور مړ شو او د هغه په زړه کښې د منافقت اور بَل شو...!! الله پاک فرمائي:

فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِیْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰی یَوْمِ یَلْقَوْنَهٗ

(پاره:10،سورة توبه: 77)

[مفهوم]ترجمهٔ کَنزالایمان: نو الله د انجام په طور د هغې ورځې پورې د هغوئي په زړونو کښې منافَقت واچولو په کومه ورځ چې به هغوئي د هغه سره میلاویږي.

یعني د مال د محبت په وجه باندې هغه منافق کنجوسي اوکړه، د زکوٰة ورکولو نه ئي انکار اوکړو، هغه وعده کړې وه چې رَبِّ کریم که ما له مال راکړې نو زه به د هغې حقونه ادا کووم، هغه وعده ماته کړه، د الله او د رسول د حکم نه ئي مخ واړولو نو هغه ته سزا میلاؤ شوه چې د هغه په زړه کښې منافقت کور اوکړو.[1]

## د منافقانو یو بد عمل

د دې آیت مبارک لاندې په **تفسیر صراطُ الجنان** کښې دي: د هغه منافق عمل چې مخے ته کیږدو او مونږه په خپلو حالاتو غور اوکړو، په مونږه



1…تفسیر نعیمی، پاره:10، سورهٔ توبه، تحت الآیة: 77، جلد:10، صفحه:488خلاصةً۔

www.dawateislami.net

کښې هم ډېر خلق داسې دي د چا سره چې مال نه وي، د غريبۍ ژوند تيروي، هغوئي دُعاګانے کوي: اے الله پاکه! مونږ له مال راکړې، مونږ به د هغه مال په ذريعه نيک کارونه کوو، د غريبانانو مدد به کوو، د بے وسو ملاتړ به جوړيږو. خو افسوس! کله چې هغوئي ته مال ميلاؤ شي، د هغوئي غريبي په مالدارۍ کښې بدله شي نو د الله پاک سره کړي تولې وعدې هيرې کړي، د مال په ذريعه د غريبانانو، بے وسو مرسته کول خو غټه خبره ده هغوئي ته په ښه نظر هم نه ګوري. **ياد ساتئ!** قرآنِ کريم دا طرزِ عمل د منافقانو انداز ګرځوي او يقيناً دا د يو رښتيني مسلمان کردار نه شي کيدے.[1]

کاش! چې د مال و دولت د محبت په ځائے مونږ ته د عشقِ رسول دولت نصيب شي. شيخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په بارګاهِ رسالت کښې عرض کوي:

مُجھ کو دُنیا کی دولت نہ زَر چاہیے  شاہِ کوثر کی میٹھی نَظَر چاہیے
ذَوق بڑھتا رہے اَشک بہتے رہیں  مُضطَرِب قَلب اور چَشمِ تر چاہیے
بس مدینے میں دو گز زمیں دیجئے  اور نہ کچھ اے شہِ بحر و بر چاہیے[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب  صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد



1…تفسیر صراط الجنان، پارہ:10، سورۂ توبہ، تحت الآیۃ: 77، جلد:4، صفحہ:189ملتقطاً۔
2…وسائل بخشش، صفحہ:513۔

www.dawateislami.net

# د مال محبت کُفر ته اورَسَوَلو

اے عاشقانِ رَسُول! اندازه اولګوئ! د مال محبت ایمان ته څومره نقصان رَسَوي. د مال محبت چې کله په زړه راخور شي نو د ایمان نور ڪم کړي، د الله پاک نبـي، حضرت موسٰی عَلَیۡہِ السَّلَام په وخت کښې یو ګس وو، چا ته چې بَلعَم بن باعُوراء وئیلے شي، دا د خپل وخت ډیر لوئے عالِم وو، رَبِّ کائنات هغه له دومره لویه مرتبه ورکړې وه چې په زمکه به ناست وو او نظر به ئې پورته کړو نو د لوحِ محفوظ لیکل به ئې لوستل، مستجابُ الدَّعوات هم وو یعني د هغه دعاګانے به قبلیدلې.

دومره لوئے ولیٔ کامِل وو....!! خو افسوس! د مال محبت، د مال حِرص او لالچ هغه تباه و برباد کړو، د هغه قوم هغه ته اووئیل: اے بَلعَمه...!! حضرت موسٰی عَلَیۡہِ السَّلَام ته ښیرې اوکړه...!! اوئې وئیل: هغه د الله پاک نبـي دے، زه هیڅ کله هم هغه ته ښیرې نه شم کولے. هغه قوم هغه له د مال و دولت لالچ ورکړو، آه! د مال او دولت ښکلا ځلا د هغه په عقل پرده واچوله، بَلعَم بن باعُوراء د مال محبت، حِرص او لالچ یوړو، هغه بدبخته حضرت موسٰی عَلَیۡہِ السَّلَام ته د ښیرو د پاره لاس اوچت کړل! د الله پاک قُدرت ته اوګورئ! بَلعَم بن باعُوراء به حضرت موسٰی عَلَیۡہِ السَّلَام ته ښیرې کولې خو د هغه په ژبه به خپل نوم راتللو، آخِر په هغه بد انجامه باندې د الله پاک عذاب نازل شو، د هغه ژبه را اووتلله او تر سینې پورې رازوړنده شوه او آه!

ډېر زيات آه...!! د خپل وخت د اوچتې مرتبې ولیٔ کامِل د مال د حِرص او محبت په وجه د کُفر په حالت کښې مړ شو.[1]

جہاں میں ہیں عبرت کے ہر سُو نمونے
مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بُو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تُو نے
جو آباد تھے وہ مکاں اب ہیں سُونے
جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے
ملے خاک میں اہلِ شاں کیسے کیسے
مکیں ہو گئے لا مکاں کیسے کیسے
ہوئے نامور بے نشاں کیسے کیسے
زمین کھا گئی نوجواں کیسے کیسے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## جائيداد مه جوړوئ! ګڼې نو بيا به د دُنيا شئ

اے عاشقانِ رَسُول! الله پاک دې مونږه د مال د محبت نه بچ کړي. د ايمان مضبوطتيا او د اخلاق و کردار صحيح کيدل په دې کښې دي چې بنده هر وخت مرګ، قبر او آخرت ياد ساتي خو د دُنيا د مال ډېر بد اثر دا دے چې د دې مينه انسان غافله کوي، د مال د محبت په وجه انسان آخرت هير کړي، دُنيا او د دې مينه په زړه کښې کور جوړ کړي او د دُنيا مينه هغه څيز دے کومه چې انسان د ګناهونو او بدو جَوَړې ګندې ته غورزوي.

څکه زمونږه خوږ آقا مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:



1...عجائب القرآن مع غرائب القرآن، صفحه:118117 خلاصةً۔

www.dawateislami.net

لَا تَتَّخِذُوا الضَّیْعَةَ فَتَرْغَبُوا فِی الدُّنْیَا یعني (اے خلقو...!!) جائیداد مه جوړوئ! ګني بیا به د دُنیا شئ.[1]

## مال مخکښې لیږئ...!!

په حدیثِ پاک کښې دي: یو ځل یو ګس په بارګاهِ رسالت کښې حاضِر شو، عرض ئې اوکړو: یَا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ما باندې څه شوي دي چې زه مرګ نه خوښووم (یعني زما زړه دُنیا طرف ته مائل دے، زه په خپل زړه کښې آخِرت طرف ته مائل کیدل کم بیاموم او مرګ کوم چې جنّت ته د رسیدلو لاره ده، زما دا مرګ خوښ نه دے). سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: آیا ستا سره مال شته؟ عرض ئې اوکړو: آؤ جي! اوئې فرمائیل: خپل مال (د آخِرت د پاره صدقه او خیرات کړه او) وړاندې ئې اولیږه! ځکه چې د انسان زړه د خپل مال سره وي، که چرې دا خپل مال وړاندې اولیږي (یعني صدقه او خیرات ئې کړي) نو د هغه (مال) سره میلاویدل غواړي او که چرې مال وروستو پریږدي نو د هغه (مال) سره وروستو پاتې کیدل غواړي.[2]

ہمارے دل سے نکل جائے اُلفتِ دُنیا　　　دے دل میں عشقِ مُحَمَّد مرے رچایا ربّ![3]



1...ترمذی، کتاب الزہد، صفحه: 557، حدیث: 2328۔
2...الزہد لابن المبارک، جز: 5، صفحه: 224، حدیث: 634۔
3...وسائل بخشش، صفحه: 82۔

www.dawateislami.net

## مال خو ئې جمع کړو خو...!!

یو ځل د یو نیک بزرګ په خِدمت کښې عرض اوکړے شو: فلانکے ګَس مال جمع کوي. د الله پاک نیک بنده ډیره ښکلې خبره ارشاد کړه، اوئې فرمائیل: هغه مال خو جمع کوي، آیا د هغه مال لګولو د پاره ورځې هم جمع کوي.[1]

دا یو ښکاره حقیقت دے، مال چې تر کله پورې زمونږ سره وي، که خزانے مو ډکې وي، مونږه د کروړونو روپو مالکان یو، دا مال مونږ ته بالکل نفع نشي رارَسَولے، د مال فائده هغه وخت وي کله چې انسان هغه لګوي او د مال لګولو د پاره وخت پکار وي، ژوند پکار وي! چې ساه ګانے رواني وي، نو بیا انسان د مال نه فائده اخستے شي خو معامَله داسې ده چې انسان په مال پسې منډې وهي، په روپۍ روپۍ مال جمع کوي، د هغه په خزانه کښې مال زیاتیږي، بینک بیلنس ئې زیاتیږي خو آه! د دې سره سره ژوند کمیږي. دلته خزانه ډکیږي، هلته ئې ژوند ختم شي.

سیٹھ جی کو فِکْر تھی کہ اِک اِک کے دَس دَس کیجئے  موت آ پہنچی کہ مسٹر جان واپس کیجئے!



1…مجموع رسائل ابن رجب حنبلی، جلد:1، صفحه:65۔

اوس دوه کارونه کيږي: **(1)** د مال سره محبت کوونکے، د مال په حِرص کښې آخِرت هيروونکے خالي لاسونه قبر ته کوزيږي **(2)** او د هغه جمع کړے شوے مال د هغه وارثان ښه په مزو سره خرچ کوي. آه!

چه چيزے به چه چيزے رَفت

يعني هائے افسوس! څومره قيمتي ژوند، په څومره حقير (سپک) کار کښې تير شو...!!

افسوس گھٹتی جارہی ہے زِندگی پر میں | دباہی جاتا ہوں عِصیاں کے بار میں[1]

د مال په طلب کښې داسې ورک شو چې د لمُونځ د پاره هډو وخت ميلاؤ نه شو، د دُنيا گټلو د پاره داسې فِکر وو چې د قرآن د تلاوت موقع ميلاؤ نه شوه، ټول ژوند په مال گټلو او جمع کولو کښې تير شو، آه! افسوس...!! د آخِرت د پاره خو مو هډو څه کړي نه وو، دُنيا هم د لاس نه لاړه، اوس خالي لاسونه د قبر په تَکه توره تياره کښې پراته يو.

اللہ! حُبِّ دنیا سے تُو مجھے بچانا | سائل ہوں یا خدا میں عشقِ محمدی کا
کچھ نیکیاں کمالے جلد آخِرت بنالے | کوئی نہیں بھروسا اے بھائی! زندگی کا[2]



1…وسائل بخشش، صفحه:274۔

2…وسائل بخشش، صفحه:178ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

## د قبر ملګرے څوک...؟

د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د انسان درے دوستان دي: **(1)** يو هغه کوم چې د ده د رُوح وتلو پورې د ده سره وي **(2)** دويم د ده سره د قبر پورې ځي او **(3)** دريم د حشر د ميدان پورې د ده ملګرے وي. د انسان هغه دوست کوم چې تر مرګه پورې د ده سره وي، هغه د ده مال دے او د انسان هغه دوست کوم چې تر قبره پورې ځي، هغه د ده کور والا دي او د انسان هغه وفادار دوست کوم چې د حشر د ميدان پورې ملګرے وي، هغه د ده عمل دے.[1]

دولتِ دنیا کے پیچھے تُو نہ جا
آخرت میں مال کا ہے کام کیا!
مالِ دنیا دوجہاں میں ہے وَبال
کام آئے گا نہ پیشِ ذوالجلال

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له د مال د حِرص او محبت نه بچ کيدل پکار دي، څومره ګټل چې ضروري دي، هغه همره اوګټئ، څومره جمع کول چې ضروري دي، هغه همره جمع هم کړئ، البته د دې په محبت کښې پريوتل او شپه او ورځ بس د مال ګټلو او جمع کولو فِکر کول، د مال د



1…بخاری، کتاب الرقاق، باب سکرات الموت، صفحه:1599، حديث:6514بتغير قليل۔

محبت په وجه باندې آخِرت هیرول، د نیکو اعمالو نه لرې کیدل سراسر ناپوهي ده.

اللہ پاک دې مونږه د مال د حِرص نه بچ کړي.

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د مال د محبت دويم شکل (صورت): شُحّ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا خو وو د مال هغه محبت کوم چې انسان حرامو ته نه بوځي، بنده د مال حِرص کوونکے خو وي، په لږ وخت کښې د مالداره کیدو خوبونه خو ويني د خپلو دې خواهشاتو پوره کولو د پاره حرامې ذریعے نه خپلوي، د داسې قِسمه مال محبت هم څومره نقصان رَسَوي چې بعضې وخت د ایمان نه د خلاصیدو وجه جوړیږي، کله په زړه کښې نفاق پیدا کوي، د انسان نه آخِرت هیر کړي او د دُنیا مستانه ئې جوړ کړي او د غفلت ښکار ئې کړي.

د مال د محبت یو بَل صورت هم دے، هغې ته شُحّ وئیلے شي. اللہ پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنْ یُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓىٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۚ (۹)<br>(پاره:28،سورۃ حشر:9) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزالایمان: او څوک چې د خپل نفس د لالچ نه بچ کړے شو نو هغه کامیاب دے. |

د شُحّ مطلب دے چې بنده د مال په محبت کښې دومره وړاندې لاړ شي چې اوس په هغه کښې د حلال او حرام تميز هم پاتې نه شي، يعني دې درجے ته په رسيدو باندې د مال محبت د حِرص په ځائے په هَوَس کښې بدل شي، اوس بنده غواړي چې مال راشي، د هغې د پاره د سود لَين دَين هم کوي، رشوت هم اخلي، په ناپ تول کښې کمے هم کوي، د نورو سره ټګي [دهوکه] هم کوي، غرض دا چې د هغه بس مال پکار وي، که په حرامه راځي او که په حلاله طريقه، د هغې هيڅ پرواه نه کوي. په زړه کښې چې د مال محبت دومره زيات شي نو دې ته شُحّ وئيلے شي.[1]

## د شُحّ نه ځان بچ کړئ ځکه چې دې مخکښې خلق هلاک کړي دي

د صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبدُ الله بِن عمر رَضِیَ اللہ عَنْہُ نه روايت دے، د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د شُحّ (يعني د مال د زيات محبت) نه ځان بچ کړئ! بيشکه ستاسو نه مخکښې خلق دې تباه کړل. شُحّ (يعني د مال زيات محبت) هغوئي په خپلولئ ماتولو راپار کړل نو هغوئي خپلولئ ماتې کړې، دې هغوئي په کنجوسئ راپار کړل نو هغوئي کنجوسي اوکړه، د مال دومره زيات محبت هغوئي په ګناهونو راپار کړل نو هغوئي د ګناهونو په ډنډه کښې پريوتل.[2] د مسلم شريف په روايت کښې



1...مجموع رسائل ابن رجب حنبلی، جلد:1، صفحه:69بتغير قليل۔
2...مسند احمد، جلد:3، صفحه:528، حديث:6643ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

دي: شُحّ (يعني د مال زيات محبت) ستاسو نه مخکښې (خلق) په وژلو راپار کړل نو هغوئي قتلونه اوکړل او حرام ئې حلال ګرځول شروع کړل.[1]

## شُحّ او ايمان په يو زړه کښې نه جمع کيږي

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: شُحّ (يعني د مال زيات محبت) او ايمان د يو بنده په زړه کښې نه شي جمع کيدے.[2]

## د مال جمع کولو او د شمارلو شمارلو سره د کينبودلو غندنه

په سيپاره 30، سورۀ هُمَزَه، آيت: 2 نه 9 پورې الله پاک ارشاد فرمائي:

الَّذِیۡ جَمَعَ مَالًا وَّ عَدَّدَہٗ ۙ﴿۲﴾ یَحۡسَبُ اَنَّ مَالَہٗۤ اَخۡلَدَہٗ ۚ﴿۳﴾ کَلَّا لَیُنۡۢبَذَنَّ فِی الۡحُطَمَۃِ ۫﴿ۖ۴﴾ وَ مَاۤ اَدۡرٰىکَ مَا الۡحُطَمَۃُ ؕ﴿۵﴾ نَارُ اللّٰہِ الۡمُوۡقَدَۃُ ۙ﴿۶﴾ الَّتِیۡ تَطَّلِعُ عَلَی الۡاَفۡـِٕدَۃِ ؕ﴿۷﴾ اِنَّہَا عَلَیۡہِمۡ مُّؤۡصَدَۃٌ ۙ﴿۸﴾ فِیۡ عَمَدٍ مُّمَدَّدَۃٍ ٪﴿۹﴾

(پاره:30،سورۀ هُمَزَه:2-9)

[مفهوم] ترجمۀ کَنزُالایمان: چا چې مال جمع کړو او هغه ئې د شمارلو شمارلو سره کينبودو هغه دا ګڼري چې د هغه مال به هغه (په دنيا کښې) هميشه اوساتي. هيڅ کله هم نه، هغه به ضرور ضرور چوره چوره کوونکي ته غوزار کړے شي. او تاسو ته څه پته ده چې هغه ريز مريز کوونکے څه شيز دے؟ هغه د الله بل کړے شوے اور دے. کوم چې به په زړونو باندې خيژي. بيشکه هغه به په دوئي باندې بند کړے شي. په اوګږدو اوګږدو ستنو کښې.



1…مسلم، کتاب البر والصلة، صفحه:1000، حديث:2578۔
2…نسائی، کتاب الجهاد، صفحه:505، حديث:3108۔

www.dawateislami.net

د دې آیتونو لاندې په **تفسیر صراطُ الجنان** کښې چې کوم وضاحت شوے دے، د هغې خلاصه څه داسې ده چې هغه کَس کوم چې په حرامه طریقه مال جمع کوي، د خپل مال نه شرعي حقونه نه ادا کوي، په مال جمع کولو کښې داسې مشغوله شي چې آخِرت بيخي هير کړي، داسې کَس آیا دا ګنړي چې هغه به په دُنيا کښې هميشه پاتې وي، آيا د هغه مال به هغه د مرګ نه بچ کړي چې د دې په اعتماد باندې دا د مال په **محبت** کښې مست وي، نيکو اعمالو طرف ته نه مائله کيږي؟ نه... هيڅ کله به هم داسې نه کيږي بلکه هغه به ضرور ضرور د دوزخ ريز مريز کوونکي طبقے ته غوزارلے شي، چرته چې به اور د هغه هډوکي پوښتئ ماتې کړي او تاسو ته څه پته ده چې هغه ريز مريز کوونکے څيز څه دے؟ هغه د الله پاک بل کړے شوے اور دے کوم چې چرې هم نه مَړ کيږي، دا اور به د بدن ظاهري حِصّه هم سوزوي او بدن ته دننه د رسيدو سره به زړه هم سوزوي، بيشکه د مال داسې حِرص کوونکي به اور ته غوزار کړے شي او دروازې به وريسې بندې کړے شي.[1] الامان والحفيظ! الامان والحفيظ...!!

بھائیو! ہر دم بچو تم حُبِّ جاہ ومال سے
مالداروں کی خوشامد میں ہلاکت ہے بڑی
کان دھر کے سُن! نہ بننا تُو حریصِ مال وزَر!

ہر گھڑی چوکس رہو شیطان کی اِس چال سے
تُو گناہوں میں پڑے گا آئے گی شامت تری
کر قناعت اِختیار اے بھائی تھوڑے رِزق پر[2]



1…تفسیر صراط الجنان، پارہ:30، سورۂ ھمزہ، تحت الآیۃ:92، جلد:10، صفحہ:825۔
2…وسائل بخشش، صفحہ:698۔

www.dawateislami.net

## د مخکښينو خبرو خُلاصه

اے عاشقانِ رَسُول! دا د مال د محبت دوه بنيادي صورتونه دي: **(1)** **حِرص**: يعني بنده د مال په محبت کښې خو راګير وي خو د دې د پاره د حرامو په لور نه ځي او **(2)** دويم صورت: **شُحّ** يعني چې بنده د مال په محبت کښې دومره وړاندې لاړ شي چې هغه د حرامو او د حلالو هډو پرواه نه کوي.

د مال د محبت دا دواړه صورتونه د ايمان د پاره ډير خطرناک دي، د مال محبت په زړه کښې نفاق پيدا کوي، د مال محبت خطرناک شرمخ دے، دا هغه خطرناک اور دے کوم چې په زړه راخور شي نو د ايمان نُور مړ کولے هم شي. ځکه مونږ له د مال د محبت نه هر وخت بچ کيدل پکار دي.

مِرے دل سے دنیا کی چاہت مٹا کر
کر اُلفت میں اپنی فنا یا الٰہی!
تُو اپنی وِلایت کی خیرات دیدے
مرے غوث کا واسِطہ یا الٰہی!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شرف و عِزَّت محبت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه په اوّل سر کښې حديثِ پاک واوريدو، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 خيزونو ته د دين د پاره ډير خطرناک وئيلي دي، په هغې کښې دويم خيز دے: د عزّت او مشهورتيا محبت.

## د عِزَّت او مشهورتیا محبت د مال نه زیات خطرناک دے

علمائے کرام فرمائي: د عزَّت او مشهورتیا محبت د مال نه هم زیات خطرناک دے، مال هغه څیز دے، د کوم د پاره چې انسان د در در ډَغَرې خوري، د مال حاصلولو د پاره خپل وخت، خپل طاقت، د کور کلي جُدائي هر څه برداشت کوي او د عِزَّت او مشهورتیا محبت داسې څیز دے د کوم د پاره چې که چرې انسان ډیره په سخته ګټلے شوے مال هم لګوي نو څه ویره نه محسوسوي بلکه د دُنیا د دروغو او بے فائدې عزَّت موندلو د پاره سَمې پیسې د اوبو په شان خرچ کوي. دلته څومره داسې خلق دي څوک چې صرف د بے کاره مشهورتیا په خاطِر بے لارې دي، نن صبا خو د سوشل میډیا دور دے، خلق د مشهورېدو د پاره عجیبه عجیبه حرکتونه کوي، فضول بلکه د ګناهونو نه ډکې ویډیوګانے جوړوي او په سوشل میډیا ئې اپ لوډ کوي، سیلفي اخلي او په سوشل میډیا ئې خوروي او د مشهورېدو په چکر کښې داسې داسې حرکتونه کوي چې د الله پاک پناه ...!!

## د سیلفۍ نقصانونه

شیخِ طریقت، اَمیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپله رساله د سیلفۍ په 30 عبرتناکو واقعاتو کښې داسې ډیرې واقعې لیکلي دي، مثلاً ✿ د جاپان یو ګس په تاج

محل (آګره، هندوستان) کښې د رائل ګیټ په پوړو ختلو او د سیلفۍ اخستلو کوشش ئې کولو، په دغه وخت د پوړو نه راپریوتو او د ژوند نه ئې لاس وینځلو ❀ د رُوس دوؤ ځلمو یو ځل لاسي بم (ګرنیډ) په لاسونو کښې راواخستلو او د هغې نه ئې پِن ویستلو او سیلفي ئې جوړوله، په دغه وخت بَم اوچاؤدو او دواړه مړه شول ❀ د پنډۍ (پاکستان) یو هلک د ریلوے په پټړۍ باندې ولاړ وو او د روان ریل ګاډي سره ئې د سیلفۍ اخستلو کوشش کولو، دغه وخت د ریل ګاډي سره اوجنګیدو او په ټَک مړ شو.

داسې نورې هم ډیرې عبرتناکې واقعې دي ❀ د حج او عمرې د سَفر په وخت هم د سیلفۍ اخستلو شوق لرونکي په خپل شوق پوره کولو لیدلے کیږي ❀ د حجرِ اَسود ښکلولو ❀ د سَعي په وخت ❀ د طواف کولو په وخت ❀ تر دې پورې چې په مدینه منوره کښې د مواجهه شریف (یعني د روضې مبارکې دیوال کوم چې د نُور نه ډک مخ ته بالکل مخامخ دے) د دې سره هم خلق سیلفي اخلي، داسې زَرَوَر هم دي چې د سیلفۍ په شوق کښې د مواجهه شریف طرف ته شاه کوي، آه! کاش...!! **چې زمونږه دا ذِهن جوړ شي چې د حَرَمَین شریفین سفر د سیلفۍ اخستلو د پاره نه د ثواب ګټلو د پاره وي.**

بهر حال! د مشهوریدو د پاره خلق پته نه لګي چې د څومره څومره خطرو سره ځان مخامخ کوي، مال لګوي او پته نه لګي چې څه څه کوي. الله پاک

دېِ مونږه د مشهورېدو د محبت نه بچ کړي، يقين اوکړئ! د مشهورتيا او د عزّت محبت ډېر نقصان رسوونکے دے.

## آخرت د چا د پاره دے...!!

په سيپاره 20: سورۀ قصص، آيت نمبر 83 کښې الله پاک فرمائي:

تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ
(پاره:20،سورۀ قصص:83)

[مفهوم] ترجمۀ کَنزُالايمان: دا د آخِرت کور مونږه د هغوئي د پاره کوو څوک چې په زمکه تکبر نه غواړي او نه فساد [غواړي].

يعني د آخِرت کور جنّت د هغوئي د پاره دے څوک چې په دُنيا کښې غلبه او اوچت والے نه غواړي، نه د ګناه کولو سره په زمکه کښې فساد خوروي.[1] د مسلمانانو څلورم خليفه امير المُؤمنين حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰى شيرِ خدا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: کوم کَس چې دا غواړي چې زما د پيزار (بوټ) تَسمه دې د نورو د تَسمے نه افضله [غوره] وي، هغه هم د دې آيت په حکم کښې داخِل دے.[2]

اَللّٰهُ اکبر! د پيزار (بوټ) تَسمه خو وړه خبره ده دلته خو په هره هره خبره کښې مقابَله کولے شي، زما پيزار دې داسې وي چې خلق ئې اووينې



1…حاشيه صاوى على تفسير الجلالين، پاره:20، سورۀ قصص، تحت الآية:83، جلد:2، صفحه:304۔

2…تفسير در منثور، پاره:20، سورۀ قصص، تحت الآية:83، جلد:6، صفحه:444۔

www.dawateislami.net

او واه واه اوکړي، زما جامې دې ښه وي، زما د کور په شان کور دې د چا نه وي، زما د ګهړۍ په شان ګهړۍ دې د چا نه وي، غرض دا چې په هر څيز کښې مقابَله کولے شي او د دې مقابَلے مقصد ئې صرف او صرف د خپل ځان مشهورتيا، عزَّت وي چې خلق ماته اوګوري، زما څيزونو ته اوګوري نو واه واه به اوکړي.

**اے عاشقانِ رَسُول!** صحابۀ کرام عَلَیھِمُ الرِّضوَان زمونږه آئيډيل دي، زمونږ د پاره بهترينې نمونے دي، د هغوئي به هم په خپل مينځ کښې مقابلے کيدلې، هغوئي به هم د يو بَل نه د وړاندې تللو کوشش کولو. خو په کومو معاملاتو کښې په نفلي روژو کښې، د الله په لاره کښې په خرچ کولو کښې، په عبادتونو کښې، لکه څنګه چې د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په غزوه تَبوک کښې د کور نيم مال د خيرات کولو د پاره راوړو نو د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت ابو بڪر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خپل کور ټول سامان راوړو.[1] په صحابۀ کرامو عَلَیھِمُ الرِّضوَان کښې به د پلار او څوي په مينځ کښې په جهاد کښې د شرکت کولو د پاره بحث کيدلو، هر يو به وئيل چې زه په جهاد کښې شرکت کووم ته په کور کښې پاتې شه، تر دې پورې چې معذوره صحابه کرام عَلَیھِمُ الرِّضوَان به هم د الله پاک په لاره کښې د شهادت د پاره بے قراره وو.[2] د غريبۍ او بے وَسۍ په وجه به ئې چې په جهاد کښې شرکت اونڪړو نو ژړل به ئې. که يو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به د



1…شرح الزرقانی، کتاب المغازی، ثم غزوۃ تبوک، جلد:4، صفحه:69۔

2…مدارج النبوه، صحابه در جنگ احد، جز:2، صفحه:124۔

www.dawateislami.net

نیمي شپې عبادت کولو نو بل به ټوله شپه، که یو به د قرآنِ پاک دریمه حصه تلاوت کولو نو بَل به د نیم قرآنِ پاک تلاوت کولو.[1]

کاش! مونږه د دُنیا په ځائے د آخِرت طلبګار جوړ شو، که چرې په دُنیا کښې عزّت میلاؤ هم شي، مشهورتیا هم نصیب شي خو که د دې په بدله کښې آخِرت لاړ شي نو څه فائده، دلته هر څه فاني دي، د یو څو ورځو دي، آه! د قیامت هغه خطرناکه ورځ...!! مخکښې تیر شوي او وروستو راتلونکي ټول [خلق] به حاضِر وي، قهر ته به مخامخ یو، که چرې هغه وخت عمل نامه پرانستے شوه، هغه د ګناهونو ډکه را اوختله نو هغه وخت چې به کوم شرمیدل وي، په هغه شرمیدو او پښیمانتیا به څه کوؤ...!! آه! هغه وخت به چرته مخ پټوو...!! کاش! چې مونږه د دُنیا نه، بلکه د آخِرت عزّت خوښولو والا جوړ شو.

## د مُفت تعریف

په سیپاره 4، سورۂ آلِ عمران، آیت نمبر 188 کښې ارشاد کیږي:

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ یَفْرَحُوْنَ بِمَاۤ اَتَوْا وَّ یُحِبُّوْنَ اَنْ یُّحْمَدُوْا بِمَا لَمْ یَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِۚ وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ﴿۱۸۸﴾

(پاره:4،سورۂ آلِ عمران:188)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُالایمان: هیڅ کله هم مه ګنړئ هغه کوم چې خوشحالیږي په خپلو کړو باندې او غواړي چې بے د څه کولو د هغوئي تعریف وي داسې [خلق] هیڅ کله د عذاب نه لرې مه ګنړئ او د دوئي د پاره دردناک عذاب دے.



1…تفسیر صراط الجنان، پاره:2، سورۂ بقرة، تحت الآیة:148، جلد:1، صفحه:۔

www.dawateislami.net

په **تفسیر صراط الجنان** کښې دي: په دې آیت کښې د هغه چا د پاره غندنه ده څوک چې د عزَّت، تعریف او د مشهورتیا حاصلولو په آرمان کښې اخته دے، څوک چې دا غواړي چې خلق په ما مئین وے، هر څوک دې زما تعریف کوي، ټول خلق دې زما کمالات اومني، ما له په هر ځائے کښې عزَّت راکړے شي، زه عالِم نه یم، خو بیا دې هم ما ته علّامه صاحب اووئیل شي، ما دې د ملک خِدمت کوونکے، د قوم مُحسِن اوګرځوي، خلق دې په اَدَب ما ته سلام اوکړي، زما تَعارُف دې په ښه القاباتو سره وي، داسې ګَس له پکار دي چې په خپل زړه باندې غور اوکړي، چې هغه د عزَّت او مشهورتیا د محبت ښکار خو نه دے، که چرې داسې وي نو د دې آیت نه دې سبق حاصِل کړي او فوراً دې د عزت او مشهورتیا د محبت نه د خلاصیدلو کوشش اوکړي. **یاد ساتئ!** د عِزَّت او مشهورتیا د محبت مریض د آخِرت د انعامونو نه د محرومه کیدو ښکار وي، په دې وجه په زړه کښې منافَقَت زیاتیږي، داسې ګَس د زړه د نُورانِیَّت نه محرومه کیږي او د هغه په دین کښې خرابي راځي او د دې سره سره داسې ګَس د ذِلَّت او رسوائې، د زړه د سکون بربادئ او د اخلاص د دولت نه محرومه کیدو ته هم مخامخ کیدے شي.[1]



1…**تفسیر صراط الجنان**، پاره:4، سورۂ آلِ عمران، **تحت الآیة**:188، **جلد**:2، **صفحه**:116117 **بتغیر قلیل**۔

www.dawateislami.net

## په آخرت کښې به د عيبونو مشهورتيا کيږي

د حضرت جُندُب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې اورول غواړي، اللّٰه پاک به هغه ته واوروي او څوک چې ښودل غواړي، اللّٰه پاک به هغه ته اوښائي.[1]

د قرآنِ کريم مشهور مُفَسِّر، حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: يعني کوم خلق چې عبادتونه خلقو ته د ښودلو، اورولو د پاره کوي نو اللّٰه پاک به په دُنيا کښې يا په آخِرت کښې د هغه عَمَل په خلقو کښې مشهور کړي خو د عزَّت سره نه بلکه د ذِلَّت سره چې خلق د هغه عمل [په باره کښې] واوري نو په هغه باندې به لعنت اووائي.[2]

## د مشهورتيا او عزت محبت دين بربادوي

اے عاشقانِ رَسُول! د عِزّت او مشهورتيا محبت خواهش ډير بد صفت دے، مونږ ته د عزت او مشهورتيا د محبت نه د بچ کيدو حکم راکړے شوے دے، البته! که چرې اللّٰه پاک يو کَس له پخپله شهرت ورکړي، د هغه په زړه کښې د شهرت محبت نه وي نو په دې کښې يقيناً چې هيڅ باک نشته، آؤ! داسې کَس له هم پکار دي چې د ځان ښه کنړلو په آفت کښې هيڅ کله



1…بخاری، کتاب الرقاق، باب الرياء والسمعة، صفحه:1596، حديث:6499۔

2…مرآة المناجيح، جلد:7، صفحه:129۔

www.dawateislami.net

هم اخته نه شي بلکه ځان د الله پاک د پټ تدبير نه ويروي. حضرت بشرِ حافِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه داسې ګَس نه پيژنم څوک چې د خپل ځان مشهورتيا غواړي او د هغه دين تباه و برباد [نه وي] او هغه ېچپله ذليل او خوار شوے نه وي.[1] الله پاک دې مونږه د عزت او د مشهورتيا د محبت او د مال د محبت او د دې په شان د نورو باطني بيمارو نه بچ کړي.

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره مدني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې په دين خوررولو کښې مصروف دے، د نيک لمُونځ ګزاره جوړيدو، د ظاهري او باطني ګناهونو نه د ځان بچ کولو، د آخِرت فِکر موندلو او د الله او د رسول په محبت باندې د زړه آبادولو د پاره تاسو هم د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمَن اونيسئ! 12 ديني کارونه هم ښه په شوق سره کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دُنيا او د آخِرت بيشميره خير به



1…احياء العلوم، جلد:3، صفحه:339۔

مو نصیب شي. د ذیلي حلقے په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار **هفته واره مدني مذاکره** هم ده.

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ!** شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د هر خالي په ورځ د ماسخُتن د لمَانځه نه پس په مدني چینل باندې نیغ په نیغه (***Live***) **مدني مذاکره** کوي یعني د ټولې دُنیا نه د عاشقانِ رسول د پوښتلے شوؤ سوالونو د عِلم او حِکمت نه ډک جوابونه ارشاد فرمائي. تاسو هم په **مدني مذاکره** کښې شرکت اوکړئ او ډیرې نیکئ اوګټئ! راځئ! د ترغیب د پاره د **مدني مذاکرې** یو مدني سپرلے اورو:

## ماشومان هم لمُونځ ګزاره جوړ شو

د تَله ګنګ تحصیل (ضلع چکوال، صوبه پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے چې مخکښې زه په معاشره کښې ډیر بے لارې انسان ووم. سګریټ، چرس، شراب څه چې به هم میلاویدل هغه به مې څښل، یو ځل په ما باندې کرم اوشو او ما د رمضان المُبارک روژې نیول شروع کړې، هره ورځ په مدني چینل باندې **مدني مذاکره** کتل مې هم نصیب شوه، د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د حِکمت نه ډکو خبرو زما په زړه داسې اثر اوکړو چې په ژوند کښې مې انقلاب راغے، **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ!** ما د ګناهونو نه رښتینې توبه اوکړه او ګیره مې پریښودله، پینځه واره لمُونځونه مې په جُمات کښې د

جَمعې سره ادا کول شروع کړل، زه ئې چې په لمُونځونو اوليدم نو زما ځوي د چا عمر چې 12 کاله او زما لور د کومې عمر چې 10 کاله دے هغوئي هم لمُونځونه کول شروع کړل. ځوئ خو مې د جَمعې سره د لمُونځ ادا کولو د پاره زما سره جُمات ته ځي.[1]

مدنی مذاکرہ ہے شریعت کا خزینہ | اخلاق کا تہذیب کا طریقت کا خزینہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حج او عمرې موبائل ايپلي کيشن پيژندګلو

اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجۍ (*Latest Technology*) په ذريعه هم د عِلمِ دين عام کولو کوشش کوي. دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائيل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، په دې کښې يو ايپلي کيشن : ***hajj & umrah*** (حج او عمره) هم دے.

د دې ايپلي کيشن په مرسته تاسو د حج او عمرې مختصره طريقه ✿ د حج او عمرې د ضروري مسائلو وغيره نه ځان خبرولے شئ ✿ د دې نه علاوه په دې موبائل ايپلي کيشن کښې د حج او عمرې دعاګانے ✿ د حرَمَين شريفَين مُقَدَّسو ځايونو معلومات وغيره شامل دي ✿ د دې موبائل



1…فيضان مدنی مذاکرہ، صفحہ:72۔

www.dawateislami.net

اپيلي کيشن يو ډير اهم خاصيت دا دے چې په دې کښې د تهري ډِي ويډيوز (***3D Videos***) په ذريعه د حج او عمرې عملي طريقه هم ښودلے شوې ده. دا موبائل اپيلي کيشن په خپل موبائل کښې انستال کړئ، د دې نه پخپله هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

## د تيلي تهون (د عطياتو د مهم) ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! دعوتِ اسلامي په ټوله دنيا کښې د نيکئ دعوت عام کوونکے ديني تحريک دے- د الله پاک په فضل سره ❁ دعوتِ اسلامي د 80 نه په زياتو شعبو کښې ديني فريضې ترسره کوي ❁ دعوتِ اسلامي اوسه پورې په زرګونو جُماتونه، په سوونو فيضانِ مدينه (مدني مرکزونه) جوړ کړي دي ❁ هلکانو او جينکو (***Boys & Girls***) ماشومانو ته د قرآنِ پاک بيل بيل تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً 6121 (شپږ زره 121) مدرسة المدينه جوړ کړے شوي دي، په کومو کښې چې تقريباً 2 لاکهه 70 زره 112 هلکانو او جينکو ماشومانو ته د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې مفت تعليم ورکولے شي- ❁ د نابينا ماشومانو د پاره هم بيل مدرسة المدينه جوړ کړے شوي دي- د شروع نه تر اوسه پورې تقريباً 4 لاکهه 39 زره 940 ماشومانو د ناظرې او د قرآنِ پاک حفظ مکمل کړے دے ❁ عِلم ته د وَدې ورکولو (د عالِم او عالِمه کورس کولو) د پاره بيلې بيلې جامعة المدينه جوړې کړے شوې دي- اوسه پورې تقريباً 1309 جامعة

المدينه (د هلکانو او جينکو د پاره) جوړې کړے شوې دي، په کومو کښې چې تقريباً 1 لاکھ 17 زره 402 جينکو او هلکانو طالب علمانو ته درسِ نظامي (د عالِم او عالِمې کورس، فيضانِ شريعت کورس) مفت کولے شي- اوسه پورې تقريباً 16 زره 117 عالِم او عالِمه کورس، فيضانِ شريعت کورس مکمل کړے دے- په لکونو حافظان، قاريان، امامان، مبلغ، مُعَلِّم، عالِم او د مفتيانو تيارولو سره سره د اُمّت د اِصلاح او کردار سازۍ کار روان دے ❁ د يو درځن نه زيات دارُ الافتاء اهلِسُنَّت جوړ کړے شوي دي، چرته چې مفتيانِ کرام د اُمَّت په شرعي لارښودنه کښې مصروف دي ❁ په المدينۃ العلميه *(Islamic Research Center)* کښې په مختلفو موضوعاتو باندې په سوؤنو ديني کتابونه چاپ کړے شوي دي ❁ فيضان آن لائن اکيډمي (د جينکو او هلکانو د پاره) جوړ کړے شوي دي د کومو په ذريعه چې آن لائن عالِم کورس، قرآنِ پاک (حفظ او ناظره) ښودلے شي، د 30 نه زياتو آن لائن کورسونو په ذريعه په 77 ملکونو کښې خلقو ته په خپل کور کښې د عِلمِ دين رڼرا رسولے شي ❁ د "مدني چينل" په ذريعه په 6 سيټلائټس باندې په اُردو، انګلش او بنګالۍ ژبو کښې د دين ښه خدمت کيږي ❁ د FGRF شعبې په ذريعه د اولسي خير ښيګړې د فريضو سلسله هم روانه ده-

په 13 نومبر کال 2022ء د اتوار په ورځ د ټيلي تهون (يعني د عطياتو د مهم سلسله) کيدونکې ده، تاسو هم د دين د خِدمت په دې کار کښې

خپله حصه شامِله کړئ! د دین د خدمت د ټولو شعبو د ټولو خرچو د پاره د دعوتِ اسلامي ټرسټ سره مرسته اوکړئ- يو يونټ: 10زره روپۍ دي- څوک چې يو يونټ ورکولے شي، هغوئي دې يو ورکړي، څوک چې 12 ورکولے شي، هغوئي دې 12 ورکړي، د چا چې څومره همت وي، د چا چې څومره وَس وي- بهر حال! په ټيلي تهون کښې حِصه ضرور شامِله کړئ! د الله په لار کښې خرچ کول د تقوىٰ والوؤ په بنيادي صفتونو کښې دي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ اَنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ لَا تُلْقُوْا بِاَیْدِیْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛۚ

(پاره: 2، سورۂ بقره: 195)

ترجمۂ کنزُ العرفان: او د الله په لار کښې خرچ کړئ او په خپلو لاسونو ځان په هلاکت کښې مه غورځوئ!

يعني د الله پاک په لاره کښې د خرچ کولو بندولو يا د کمولو سره ځان په هلاکت کښې مه غورځوئ! [1] معلومه شوه! چې د الله پاک په لاره کښې په خرچ کولو کښې زمونږه فائده ده- که چرې مونږه د دين مالي خدمت پريږدو نو جُماتونه به څنګه جوړيږي؟ لکونه حافظان به څنګه تياريږي؟ په زرګونو عالِمان، د 80 نه زياتې ديني شعبې به څنګه کار کوي؟ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي د دين خدمت کوي، دعوتِ اسلامي **جُماتونه جوړ**



[1]...تفسير صراط الجنان، پاره:2، سورۂ بقره، زيرِ آيت:195، جلد:1، صفحه:309-

www.dawateislami.net

**کړئ تحريک** هم دے، دعوتِ اسلامي **جُماتونه ډک کړئ تحريک** هم دے او د الله پاک په فضل سره دعوتِ اسلامي **ايمان بچ کړئ تحريک** هم دے- دعوتِ اسلامي زمونږه نسلونه بچ کوي- کور کور ته د نيکئ دعوت رسوي او کورونه د امن نه ډَکوي- که چرې مونږه د دعوتِ اسلامي ملاتړ اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې فائده به مونږ او زمونږ نسلونو ته رَسي- ځکه هِمت اوکړئ! د زړه د اِخلاصه د الله پاک په لار کښې خرچ کړئ! د دعوتِ اسلامي ملاتړ اوکړئ! که الله پاک اوغوښتل نو د دين او دنيا برکتونه به مو نصيب شي- الله پاک دې مونږ له د دين د خِدمت توفيق راکړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّت د فضيلت او د ژوند د بعضو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. د رِسالت تاجدار، شَهَنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِيْ فَقَدْ اَحَبَّنِيْ وَمَنْ اَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ

چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا

چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د عمامې (پټکي) شريف سُنَّتونه او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** عمامه (پټکے) تړئ ستاسو حِلم به زياتيږي.[2]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! ❀ عمامه په ولاړه تړئ او پاجامه په ناسته اغوندئ ❀ چا چې د دې اُلټا عمل اوکړو هغه به په داسې مرض کښې اخته شي چې دوا به ئې نه وي (يعني طبيبانو ته به ئې د دوا علم نه وي) ❀ د عمامې تړلو نه مخکښې ښه ښه نيتونه اوکړئ که يو هم صحيح نِيَّت نه وو نو ثواب به نه ميلاويږي ❀ مناسب دا دي چې د عمامې وَل د سر ښې طرف ته لاړ شي.

❀ د الله پاك آخري رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مباركې عمامې شمله به عام طور د (مباركې ملا) په شا وه، كله كله به ښي طرف ته، كله به د دواړو اوګو تر مينځه دوه شملے وے❀ كينړ [يعني ګڅ] طرف ته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دي ❀ د عمامے د شملے مقدار کم نه کم خلور ګوتے او زياتو نه زيات (د ملا د نيمې پورې تقريباً) يو لاس (د لاس مينځنئ ګوتې د



1…تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2…مستدرک، کتاب اللباس، جلد:5، صفحه:272، حدیث:7488۔

www.dawateislami.net

سر نه واخله تر خټګله پورې ناپ ته یو لاس واڼي) ❀ عمامه مخ په قبله په ولاړه ولاړه تړئ ❀ په مرأت شریف کښې دي: عمامه شریف په ولاړه ولاړه ترل سُنَّت دي، په جمات کښې ئې تړئ یا چرته بل ځائ او❀ په عمامه کښې سُنَّت دا دي چې د دوه نیم ګزه نه کمه نه وي، او نه د شپږو ګزو نه زیاته وي او د دې بناوټ (شکل) ګنبد نما وي.[1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدینه **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه 16 او د شیخِ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ!

د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

پیٹ میں درد ہو رنگ بھی زَرد ہو | آ کے لو صِحّتیں قافلے میں چلو
ہے شِفا ہی شِفا، مرحبا! مرحبا! | آ کے خود دیکھ لیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

❀ ❀ ❀ ❀ ❀

323

1…550سنتیں اور آداب، صفحه:5654ملتقطاً۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ



1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

www.dawateislami.net

## ﴾3﴿د رَحمت اويا دروازے:

ځوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴾4﴿د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا ځوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما



1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

www.dawateislami.net

باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو

323

1... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥

لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد



1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net